# حقوقي مشوره

تاسو کولی شئ د نړیوال خوندیتوب د پروسې پر مهال، په وړیا توګه حقوقي مشوره ترلاسه کړئ. پدې کې ستاسو د غوښتنلیک د ثبتولو مرسته هم شامله ده.

حقوقي مشوره پدې معنا ده چې تاسو کولی شئ د لاندې موضوعاتو په اړه معلومات او وضاحت ترلاسه کړئ:

- ستاسو حقونه او مسؤلیتونه
- بېلابېلې پروسې
- حقوقي موضوعات.

حقوقي مشوره د (Citywest Convention Centre)کې د (Legal Aid Board) له لارې وړاندې کېږي.

## حقوقي مشوره څه ده؟

حقوقي مشوره ستاسو د غوښتنلیک او د نړیوال خوندیتوب د پروسې اړوندو مرحلو په اړه لارښوونه، معلومات او مرسته برابروي. پدې کې حقوقي سلا (Legal Advice) نه شاملیږي.

تاسو باید پوه شئ چې:

- حقوقي مشاورین به تاسو ته د کوم ځانګړي اقدام سپارښتنه ونه کړي.
- حقوقي مشاورین به ستاسو د غوښتنلیک په اړه نظر څرګند نه کړي.
- حقوقي مشاورین ستاسو دوسیې ته لاسرسی نه لري او ستاسو د قضیې ځانګړي جزئیات به نه اخلي.

حقوقي مشوره له حقوقي استازیتوب څخه جلا ده او هغه وخت پای ته رسیږي چې یو وکیل ستاسو د مشورې او استازیتوب لپاره وټاکل شي.

دا خدمت د حقوقي مشاورینو له خوا وړاندې کېږي چې وکیلان نه دي. حقوقي سلا او استازیتوب (چې د حقوقي مرستې په نوم هم یادیږي) د وکیلانو له خوا وړاندې کېږي کله چې تاسو د حقوقي مرستې غوښتنه وکړئ. تاسو باید ژر تر ژره د ته د حقوقي سلا او استازیتوب لپاره غوښتنلیک وړاندې کړئ. تاسو کولی شئ د کې د له لارې یا زموږ د درې حقوقي مرکزونو څخه په یوه کې د حقوقي مرستې غوښتنه وکړئ: (1) ډوبلین (Smithfield)، (2) کورک (Pope's Quay)، او (3) ګالوی (Woodquay).

د حقوقي مشورې غوښتنه کول ستاسو مسؤلیت دی

## د حقوقي مشورې مرحلې

حقوقي مشوره په دوو مرحلو کې تاسو ته وړاندې کېږي.

لومړی:

### 1. د ویډیو له لارې حقوقي مشوره

دا ویډیوګانې تشریح کوي چې حقوقي مشوره څه ده او د هغو ټولو پروسو لنډه پېژندنه وړاندې کوي چې ممکن ستاسو د نړیوال خوندیتوب غوښتنلیک باندې پلې شي. کله چې ستاسو د نړیوال خوندیتوب د غوښتنلیک پروسه پرمخ ځي، تاسو باید هغه ویډیوګانې بیا وګورئ چې هغه پروسه (یا پروسې) تشریح کوي چې (IPO) یې ستاسو په غوښتنلیک باندې د تطبیق وړ ګڼي.

تاسو کولی شئ د لاندې QR کوډ په کارولو، د (LAB Citywest Legal Counselling Service) د استقبال دفتر ته په ورتګ، یا د لاندې وېبپاڼې له لارې د حقوقي مشورې لپاره نوملیکنه وکړئ:

https://internationalprotection.legalaidboard.ie/

دوهم:

**2. مشورتي کلینیکونه**

مشورتي کلینیکونه به هره ورځ (له دوشنبې څخه تر جمعې، د سهار له 10:00 بجو څخه تر مازدیگر 4:00 بجو پورې) په کې په ځانګړې تاکل شوې ساحه کې ترسره کیږي، چیرې چې تاسو به د پوښتنو کولو او د لا زیاتو وضاحتونو غوښتلو فرصت ولرئ.

په کلینیکونو کې به حقوقي کارکوونکي د ژباړې له خدمتونو سره حاضر وي ترڅو ستاسو پوښتنو ته ځواب ووایي او مرسته درسره وکړي.

په کلینیکونو کې ګډون کول لازمي نه دي، خو سپارښتنه کیږي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې تاسو پروسې، خپل حقونه او مسؤلیتونه په سمه توګه درک کړي دي.

تاسو کولی شئ د کلینیکونو مهالویش، چې هره اونۍ تازه کیږي، د لاندې QR کوډ په کارولو یا د لاندې ویبپاڼې له لارې ومومئ:

https://internationalprotection.legalaidboard.ie

**حقوقي سلا او استازیتوب**

حقوقي سلا او استازیتوب (چې د حقوقي مرستې په نوم هم یادیږي) د وکیلانو له خوا وړاندې کیږي. تاسو باید ژر تر ژره د حقوقي مرستې لپاره غوښتنلیک ورکړئ ترڅو حقوقي سلا او استازیتوب ترلاسه کړئ. تاسو کولی شئ د کې د لارې یا زموږ د درې حقوقي مرکزونو څخه په یوه کې د حقوقي مرستې غوښتنه وکړئ: (1) ډوبلین (Smithfield)، (2) کورک (Pope's Quay)، او (3) ګالوی (Woodquay).